# د لمریز نظام پوهه




Ketabton.com

راټولوونکی: نعمت الله بریال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب نوم: د لمریز نظام پوهه

ترتیب کوونکی: نعمت الله بریال

کال: ۱۳۹۹هـ ش

د خپریدو بڼه: الکترونیکي

ډیزاین: نعمت الله بریال

موبایل شمېره:0777073536

واټساپ:0777073536

فېسبوک: Naimat Ullah Baryal

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډالـــۍ

هغوی ته چې په سختو ورځو کې یې زمه ملاتړ کړی دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

له پاک خدای له دربار څخه ډېر شکر ګزاره یم، چې ما ته یې ددې توان راکړ، چې خپلو هیوادوالو ته داسې یو کتاب وړاندې کړم، چې د هغه مطالعه په ننۍ نړۍ کې ډېره اړینه بولم

دغه کتاب زمه لومړنۍ هڅه ده، چې ترسره کوم یې، او غواړم دغه لړۍ نوره هم پر مخ یوسم

له دغه کتاب لوستلو وروسته به تاسې په دې وتوانیږۍ، چې د کایناتو د یوې برخې په اړه ګټور معلومات ترلاسه کړئ. دغه کتاب په لومړي سر کې ما د یوې مقالې په بڼه تیار کړی وو، چې بیا وروسته دغو په زړه پورې معلوماتو دې ته وهڅولم، چې د کتاب په بڼه یې د یو لړ اضافي معلوماتو سره یوځای خپور کړم.

دا چې ما مخکې یادونه وکړه، چې دغه زمه لومړۍ هڅه ده، نو دغه کتاب به هم بعضې نیمګړتیاوې ولري، نو په دې تمه، چې دغه نیمګړتیاوې راوبخښئ او له ما سره یې د سمون په خاطر شریکې کړئ

نور خپلې خبرې رالنډوم. د یو اباد او پرمختللي افغانستان په هیله!

نعمت الله بریال

13-01-2021

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

گڼه عنوان.......................................................مخ
۱: ستورپوهنه څه ده؟.......................................................۱
۲: د نړۍپیدایښت.......................................................۱
۳: کهکشان(Galaxy).......................................................۱
۴: لمریز نظام.......................................................۳
۵:عطارد(Mercury).......................................................۴
۶: زهره(Venus).......................................................۵
۷: ځمکه(Earth).......................................................۷
۸: مـریخ (Mars).......................................................۹
۹: مشتري (jupiter).......................................................۱۱
۱۰: زحل (Saturn).......................................................۱۴
۱۱: اورانــوس (Uranus).......................................................۱۵
۱۲: نپتون (Neptune).......................................................۱۷
۱۳: پلوتو(Pluto).......................................................۲۰
۱۴: معلوماتي برخه.......................................................۲۲
۱۵: د ستور پوهنې اړوند ځینې لغات.......................................................۲۷
۱۶:مأخذونه.......................................................۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ستوري پوهنه څه ده؟

د ستورپوهنې تعریف: ستورپوهنه د ستورو پیداښت، جوړښت، وضعیت.، فزیکي او کیمیاوي خواص، تحول او راتلونکی حالت د څیړنې او مطالعې څخه عبارت دی. ستورپوهنه لکه د نوروعلومو په شان د بشردپوهې د ډېرښو سره تغیرمومي او په څو څانګو باندې ویشل کیږي. د ستورپوهنی د مطالعې څخه زموږ اساسي موخه د آسماني توکو او آسماني پېښو پېژندل اوهمدارنګه په نړۍ اوطبیعت باندی حاکم نظم او د قوانینوکشف او پیژندل دي. په اوسني حالت کې، د بشر په ژوندانه ءيځ یوعلم د ستورپوهنې په اندازه اغېزنه لري ځکه چې یوازې د ستورپوهنې د څانګې په مرسته کولای شو ډېرو پوښتنوته لکه د نړۍ پیداښت، د نړۍ راتلونکی او د ژوند امکان پرنورو سیارو باندې ځواب پیداکړو.

## د نړۍ پیداښت!

پخوانیو او نوو پوهانو د عالم د پیداښت په باره کې بېلې نظریې ورکړي دي، خو د اسلام د سپیڅلي دین له پلوه الله(ج) د نړۍ او ټول موجودات پیداکړي دي. د اسلام له نظره د کایناتو په فضا کې پراخه حجم او خپور دود او غاز موجود و چې د ننیو پوهانو هم دا منلي ده او هغه یې (نیبولا سحابي) په نوم یادوي.

## کهکشان(Galaxy)




کهکشان د ستورو د سیستم له هغې ټولګې څخه عبارت دی چې د ستورو نړۍ هم ورته وايي. په کهکشان کې په ملیاردو ستوري شتون لري، د فضا پراختیا او سحابي کهکشان اندازه کېدلی نشي، پیل او پای یې ټاکلی نشو، د کایناتو په فضا کې په میلیونو فضا یي کهکشانونه شته چې لمریز نظام نظر د هغه لویوالی ته دیو ټکي حیثیت لري، په ځینو هغو عکسونو کې چې له ستورو اخېستل شوي، لیدل کیږي چې لمریز نظام په سحابي کهکشان کې د نقطې په شان یو ځای نیولی دی او په ملیونو نورې منظومې یې په شاوخوا کې لیدل کیږي، که څه هم لمریزې منظومې په سحابي کهکشان کې ډیر کم ځای نیولی، سره له دې هم د لمر او دهغه د ډیر لرې ستوري (پلوتو) ترمنځ (۹۲۴) میلیونه کیلومتره واټن شته دی. چې د ځمکې د کرې په نسبت د لمر چاپیره په (۲۴۹) کالو او دورو کې خپل انتقالي حرکت تر سره کوي، دغه رقمونه د لمریز نظام پراختیا او لویوالی په ښه ډول ښکاره کوي، د لمریز نظام د پراختیا او لویوالي او د کایناتو د پراختیا په باره کې په زړه پورې معلومات وړاندې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کائيناتو کې تر اوسه لاندې کهکشانونه کشف شوي دي:


- د شيدو لار (پيو لار) Milk way کهکشان
- د اندروميدا (Andromeda) کهکشان
- درې ګونى (Trianglum) کهکشان
- قنطورس (Qanturis) ګکهکشان

● بايد په ياد ولرو چې، لمريز نظام د شيدو لار په کهکشان يوه برخه کې شتون لري . اوس راځو لمريز نظام په لنډ ډول پيژنو:



(c) ketabton.com: The Digital Library

لمریز نظام




شمسي منظومه ډېر لرغونتوب لري، پوهان په دې باور دي چې لمریز نظام پنځه ملیارده کاله پخوا منځته راغلی دی.

۱۸۱ سپوږمۍ زموږ په لمریز نظام کې د سیارو چاپیره څرخی چې د دی له جملی څخه ۱۷۶ دارېږ د اصلي سیارو چاپیره څرخي باقي نور سپوږمۍ د پلوتو ، سرس او نورو څخه تاویږي چې ځینی سیارې لکه عطارد. زهره هیڅ سپوږمۍ نه لري او ه مدارنکه ۶۷ سپوږمۍ ځانته له مشتري چاپیره څرخیږي.

لمریز نظام نهه اصلي سیارېلري چې عبارت دي له: عطارد، زهره، ځمکه، مریخ، مشتري، اورانوس او زحل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عطارد(Mercury)



لمر ته تر ټول نږدې سیاره عطارد ده. د هغې د لیدلو ډېر ښه وخت سهار وختي او د مازدیگر مهال دی، خو کله چې لمر په آسمان وي باید هېڅکله دغې سیارې ته ونه کتل شي، ځکه چې سترگو ته زیان رسوي، آن دا چې ممکن سترگې ړندې کړي.

له دې امله چې عطارد لمر ته نږدې ده نو له دې امله یې د تودوخې درجه د سانتي گراد تر ۴۲۷ پورې رسیږي. دغه سیار اتمو سفیر نه‌لري. یو اړخ یې لمر ته دی، ډېر تود دی، خو بل اړخ یې سوړ او کنگل وي. نو له همدې کبله د عطارد د تودوخې د سانتي گراد درجه د ورځې له خوا په منځنۍ توگه د ۱۹۰ څخه تر ۴۵۰ درجو پورې وي، او د شپې له خوا د سانتي گراد تر منفي۱۸۰ درجو پورې رسیږي. دغه سیاره جامده ده، او مخ یې د سپوږمۍ په شان د ژورو کندو لرونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زهره(Venus)



د سپوږمیو شمیر:0

کتله: د ځمکې 82%

قطر7520 : میله

کال:د ځمکې 225 ورځې

ورځ: 243 ځمکنۍ ورځې

د حرارت درجه:د فارنهایټ 850 درجې

له لمر څخه فاصله: له لمر څخه دویمه سیاره ده، 67 میلیونه میله لریوالی لري.

زهره څه ډول سیاره ده؟

زهره د دوه اصطلاحاتو په کارولو سره په ښه توګه توضیح کیدای شي: توده او په وریځو کې پټه. دا وریځ زیاتره له کاربن ډای‌ؤکساید څخه جوړه‌شوې ده چې شین کوریزې اغیزې لري او د لمر د تودوخې د اغیز له کبله یې پر دې سیارې د یوې لویې بړستنې ښه غوره کړې ډله دې کبله زهره زموږ د شمسي نظام تر ټولو توده سیاره ده.دا سیاره له عطارد څخه هم ډیره توده ده چې د لمر سترګي ته څېرمه موقیعیت لري.

زهره هم د عطارد، ځمکې او مریخ په څیر خاورینه سیاره ده. په دې معنی چې یوه سخته ډبرینه‌سطحه لري. جغرافیه یې یو څه د ځمکې د جغرافیې په څیر ده چې غرونه، وادي ګان، ارتفاعات او آتشفشانونه لري. دا سیاره په بشپړه توګه وچه ده،خو د ویلې شوې لاوا اوږده سیندونه په کې روان دي او په زرګونو آتشفشانونه یې پر سطحه رامنځته کیږي په زهره کې100 لوی آتشفشانونه رامنځته شوي‌دي چې هر یو یې 100 کلومیټره او یا زیات مساحت نیولې دی.

زهره څه ډول له ځمکې سره مقایسه کولی شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زهره د جسامت، کتلې او جاذبې له پلوه ځمکې ته ډېره ورته ده‌له دې کبله يې ځينې وخت د ځمکې خور بولي. خو د زهرې متراکمه اتموسفير او سخته تودوخه له ګنو لارو د زهرې او ځمکې تر منځ توپيرونه راڅرګندوي. اوبه چې د ځمکې يوه اړينه برخه جوړوي، د زهرې پر سطحه نه موندل کيږي، ځکه چې تودوخه يې تبخيروي.

د زهرې په اړه مو څنګه معلومات ترلاسه کړي دی؟

څرنګه چې زهره دومره په آسانۍ سره ليدل کيږي چې ټليسکوب ته اړتيا نه لري، نو اړتيا نه ليدل کيږي چې سړی په دې فکر شي چې لومړی به چا ليدلي وي‌ځينو پخوانيو مدنيتونو فکر کاوه چې دا دوه سيارې او يا رانه ستوري دي: يو د سهار ستوری او بل د ماښام ستوری دی. په 6مې قبل‌ الميلاد پيړۍ کې يو يوناني رياضي پوه چې فيثاغورث نوميده وموندل چې دا عين سياره ده. ګاليليو بيا په 16 مه پيړۍ کې وموندله چې د زهرې سياره د لمر چاپيره مدار وهی.

د فضايي پلټنو له پيله راهيسې ګڼې فضايي بيړۍ د زهرې سيارې ته وليږل شوې‌ځينې فضايي بيړۍ ان د زهرې پر سطحه ښکته شوې او معلومات يې هم راوليږل چې د زهرې سطحه د وريځو لاندې څه ډول ښکاري. لومړنۍ فضايي بيړۍ چې د زهرې پر سطحه ښکته شوه د ونيرا (Venera 7) په نوم يوه روسي فضايي بيړۍ وه بيا له 1989 څخه تر 1994 کاله پورې د مجيلان فضايي ماموريت له يوه رادار څخه په استفادې سره د زهرې سطحه په زياتو جزياتو سره وپلټله.

څرنګه چې زهره د ځمکې په مدار کې داخله ده، د لمر بريښنده وړانګې اجازه نه ورکوي چې د ورځې له لورې له ځمکې وليدل شي. خو د لمر پريوتو څخه وروسته او لمرختو څخه وړاندې د اسمان تر ټولو روښانه ستوری جوړوي. اصلا له سپوږمې وروسته همدا ستوری د اسمان تر ټولو روښانه ستوری دی

د زهرې په اړه په زړه پورې معلومات:

زهره په هغه مدار کې چې نورې سيارې چورلي، د ختځ پر لور تاويږي.

ځينې ساينسپوهان په دې عقيده دي چې د ختځ په طرف د زهرې څرخيدل د هغې لويې اغيزې له کبله رامنځته شوی دی چې وړوکې سيارې او يا لکۍ لرونکي ستوري پر ښندلي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زهرې پر سطحه د اتموسفیر فشار د ځمکې د اتموسفیر فشار په پرتله ۹۲ ځلې زیات دی.

زهره د لاوا یوازینۍ ځانګړنه لري چې د(Pancake) ګنبدې په نامه یادیږي او د لاوا یوه لویه ګنبده ده او جسامت یې (20 میله ارت او 3000 فټه لوړ دی).

زهره چې په لاتین کې وینوس په نامه یادیږي د رومیان په یوه معبود پسې نومول شوې ده دا یوازینۍ سیاره ده چې د یوې ښځې پسې نومول شوې ده. دا د اته سیارو شپږمه لویه سیاره بلل کیږي.

## ځمکه(Earth)



۱- ځمکه تر اوسه پورې یوازینۍ پیژندل شوې سیاره ده چې ژوند کول کې شونی دی د لمر پرته، نور ټول هغه شیان چې پر ځمکې ژوند کولو ته لار هواروي د اټموسفیر تر پردې لاندې دي خو پر ځمکې د ژوند کولو اصلي سرچینه لمر دی.

۲- که لمر د یوه وره (دروازې) هومره لوی وای، نو ځمکه به د کیلی د سوري هومره وای.

۳- ځمکه له لمر څخه د واټن له مخې دریېمه سیاره ده چې دا واټن ۱۴۹،۶ ملیون کیلو متره دی.

۴- د ځمکې یوه ورځ ۲۴ ساعته او کال یې هم ۳۶۵ ورځې دی. په ځمکه کې د وخت د تېرېدا سرعت په یوه ساعت کې ۱۶۷۴ کیلو متره [۱۰۴۰ میله] دی. دا په اصل کې د ځمکې د محوري حرکت سرعت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی. له همدې محوري حرکت څخه شپه او ورځ جوړېږي، او له شپو او ورځو څخه بیا اوونۍ، میاشت، کال او په لوی سر کې زموږ ژوند جوړېږي.

۵- ځمکه یوه ډبرینه سیاره (Rocky planet) ده چې مخ یې غرونو، درو، دښتو او ٪۷۱ اوبو (سمندرونو) پوښلی دی.


۶- د ځمکې اتموسفیر موږ له ساړو، تودوښې، او د تشیال (Space) له بې هواتوب څخه ساتي. دا اتموسفیر ٪۷۸ نایټروجن، ٪۲۱ آکسیجن، او ٪۱ نور غازونه لري. دا ټول هغه توکي دي چې پر ځمکې د ژوندیو شیانو د ساکښلو لپاره اړین دي. ډېرې سیارې آن ځینې سپوږمیانې لا خپل اتموسفیرونه لري؛ خو یوازې پر ځمکې ساکښنه شونتیا لري.

۷- ځمکه یوه طبیعي سپوږمۍ او ۱۰۷۰ مصنوعي سپوږمکیانې لري چې په ټیټ مدار کې پر را چورلي. په دې کې د یوې سپوږمکۍ یوه برخه د افغانستان د مخابراتو وزارت هم رانیولې ده چې افغانسټ (Afghandat) نومېږي.

۹- ځمکه کړیانې (rings) نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مـريـخ(Mars)



د سپوږمیو شمیر:2

کتله: د ځمکې 11%

قطر : 4217 میله

کال: د ځمکې 1.9کاله

ورځ: 24.6ساعته

د حرارت درجه: د فارنهایټ له-190 څخه تر +60 درجې

له لمر څخه فاصله:له لمر څخه څلورمه سیاره ده، 142 میلیونه میله لریوالی لري.

مریخ څه ډول سیاره ده؟ مریخ له لمر څخه څلورمه سیاره ده.

دا هم یوه خاورینه سیاره ده، په دې معنی چې یوه سخته ډبرینه سطحه لري چې ګامونه پر اخیستل کیږي

د مریخ سطحه وچه ده او زیاتره برخه یې پر یو ډول سور ګرد او سرو ډبرو پوښل شوې ده. له ځمکې

څخه موږ ته مریخ سور ښکاري. مریخ په شمسي نظام کې تر ټولو په زړه پورې طبیعي جغرافیایي

جوړښتونه لري. اولمپس غر چې اوس د یو غیر فعال آتشفشان شکل لري، د شمسي نظام تر ټولو لوړ غر

بلل کیږي. دا غر د ایوریسټ غره درې چنده لوړ او د مریخ له سطحې۱۶ میتره پورته ولاړ دی د مریخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو بل لوی جغرافيايي جوړښت يو لويه او ژوره دره ده چې د مرينريس Marineris وادي په نامه ياديږي. دا وادي په زرګونه ميله اوږدوه او ۴ ميله ژوروالی لري. د مريخ موسم مريخ زياتره وخت د دوړو او ګردونو ستر طوفانونه لري چې له چټک باد سره ملګري ديږ ګرد دغه طوفان د لمر په انرژۍ رامنځته کيږي او دومره لويږي چې تر څو ميله لوړوالي اتموسفير ته ګردونه پورته کوي او د سيارې زياتره برخه نيسي. ځينې طوفانونه دومره لوی دي چې ان پر ځمکه هم د ستورپوهانو له خوا ليدل کيږي له ځمکې سره د مريخ مقايسه مريخ له ګڼو لارو له ځمکې سره ورته والی لري. د مريخ کال او ورځ د نورو سيارو د ورځ کال په پرتله ځمکې ته ډير ورته دي. مريخ د ځمکې په څير يوه خاورينه سياره ده. مريخ د قطر او کتلې له پلوه د ځمکې په پرتله يو څه کوچنی دی. د ځمکې برعکس، مريخ يو خورا نازکه اتموسفير لري چې زياتره له کاربن څخه جوړ شوی دی. له دې کبله مريخ د ځمکې په پرتله د فارنهايټ 70- درجې سوړ دی. داسې شواهد موندل شوي دي چې د ځمکې په څير يو وخت د مريخ پر سطحه پرانستې اوبه په مايع شکل موجودې وې. ښايي ميلياردونه کاله پخوا د مريخ پر سطحه ژوند هم موجود وو. د مريخ په اړه مو څه ډول معلومات ترلاسه کړي دي؟ مريخ يو له هغو سيارو څخه دی چې مطالعه کول يې له ځمکې هم آسانه دي دا سياره خورا نږدې او څرنګه چې د ځمکې په پرتله له لمره لږ څه لرې ده، ليدل يې د شپې له خوا په آسمان کې آسانه دي. مرينر ۴(Mariner 4) هغه فضايي بيړۍ وه چې په 1969 کال کې يې د لومړي ځل لپاره د مريخ نږدې انځورونه راوړل. له هغې وروسته څو پلټونکو فضايي بيړيو له مريخ څخه کتنه وکړه ويکينګ ۱(Viking 1) ، ويکينګ ۲ (Viking 2) او پاټ فايندر ليندرز (Pathfinder landers) د مريخ پر سطحه ښکته او د مريخ له سطحې يې موږ ته تصويرونه راوليږل او د مريخ خاوره يې همتحليل کړه. ښايي مريخ هغه لومړۍ سياره ده چې ښايي انسان په کې قدم ووهي. ګڼ خلک په دې ګومان دي چې دا کار ښايي په2020 کال کې ممکن شي. د مريخ په اړه په زړه پورې معلومات دا سياره د روميانو د هغه معبود په نامه نومول شوی دی چې دوی پخپله عقيده د جګړې خدای باله. يونانيانو به د خپل معبود پسې دې سيارې ته د بهرام يا "Ares" نوم اخيسته چې د دوی په عقيده د جګړې خدای وو. د مريخ دوه سپوږمۍ د فوبوس Phobos او ډيموس Deimos په نومونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادیږي. څرنګه چې په مریخ کې کوم سمندر نشته، له دې کبله تقریبا د ځمکې هومره وچه سطحه لري لرغونو مصریانو مریخ د هار دشر "Har dècher" په نامه یادوه چې د سره جسم په معنی دی. یو شخص چې پر ځمکه ۱۰۰ پاونډه وزن ولري د مریخ پر سطحه یې وزن ۳۸ پاونډو ته راکمیږي. ځینې ساینسپوهان په دې عقیده دي چې مریخ یو وخت په اوبو پوښل شوی وو.

## مشتري(jupiter)



د مشتري سیاره

د سپوږمیو شمیر:63

کتله: د ځمکې د کتلې 318 چنده

قطر: 88846میله

کال: د ځمکې 11.9کاله

ورځ: 9.8ساعته

د حرارت درجه: د فارنهایټ له-170 درجې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له لمر څخه فاصله:له لمر څخه پنځمه سیاره ده، 484 میلیونه میله لریوالی لري.

مشتري څه ډول سیاره ده؟

مشتري د شمسي نظام تر ټولو لویه سیاره ده او له لمر څخه پنځمه سیاره ده. د دې سیارې کتله د ځمکې په پرتله ۳۰۰ ځلې زیاته ده او د ټولو نورو سیارو د ټولټال کتلې دوه چنده زیاته ده.مشتري ته لویه ګازي سیاره هم وایي. دا ځکه چې د دې سیارې سطحه د هایدروجن ګاز له یوې ټینګې طبقې څخه جوړه شوې ده. د ګازي طبقې لاندې، د سیارې په ژور منځ کې فشار دومره لوړیږي چې هایدروجن پر مایع بدلوي او بالاخره یې فلز ته اړوي. د هایدروجن لاندې یوه ډبرینه هسته ده چې د ځمکې هومره جسامت لري.

د مشتري هوا:

د مشتري سطحه د لویو طوفانونو، بادونو، بریښنا او تالندې د شتون له کبله له سختو خطرونو ډکه ده. د مشتري پر سطحه رامنځته شوی یو طوفان چې د لوی سره خال( Great Red Spot) په نامه یادیږي د ځمکې درې چنده لوی جسامت لري په دې لوی سور خال کې له پیړیو راهیسې طوفانونه روان دي.د مشتري د سطحې طوفانونه له لمر څخه انرژي نه اخلي، بلکې د هغو وړانګو له کبله رامنځته کیږي چې مشتري یې خپله آزادوي.

د مشتري سپوږمۍ:

مشتري یو لړ په زړه پورې سپوږمۍ لري چې له منځه یې ګاني مید(Ganymede)، لو(Io)، اروپا(Europa) او کالیستو(Callisto) د یادونې وړ دي. دا څلور سپوږمۍ د لومړي ځل لپاره د ګالیلیو له خوا وموندل شوې او له دې کبله د ګالیلیو سپوږمیو په نامه هم یادیږي.ګاني مید چې د شمسي نظام تر ټولو لویه سپوږمۍ ده، جسامت یې له عطارد څخه هم لوی دی.لو سپوږمۍ په اتشفشانونو او لاوا کې پټه ده. خو له بلې خوا اروپا نومې سپوږمۍ په کنګل پټه ده او د کنګل لاندې د مالګینو اوبو لوی سمندر لري ځینې ساینسپوهان په دې اند دي چې ښایي د اروپا سپوږمۍ په سمندر کې د ژوند د شتون امکانات موجود وي. د مشتري چاپیره بیلابیلې سپوږمۍ دغه سیاره د پلټنو لپاره یو په زړه پورې ځای جوړوي

مشتري له ځمکې سره څه ډول مقایسه کولی شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشتري له ځمکې سره ډېر زيات توپير لري. لومړی دا چې د مشتري سطحه ګاز دی او هلته د دريدلو ځای نشته. دويم دا چې مشتري له ځمکې300 ځلې لوی دی او لږ تر لږه63 سپوږمۍ لري په داسې حال کې چې ځمکه يوازې يوه سپوږمۍ لري همداراز د مشتري پر سطحه يو درې سوه کلن طوفان روان دی چې ځمکه به په يوه شيبه کې له منځه ويسي. خوښ يو چې داسې طوفانونه پر ځمکه نه رامنځته کيږي!

څه ډول د مشتري په اړه معلومات ترلاسه شوي دي؟

څرنګه چې په اسمان کې ځلورم روښانه ستوری دی له دې کبله انسانان د مشتري له شتون څخه څو زره کاله وړاندې خبر وو.ګاليليو په لومړي ځل په ۱۶۱۰ميلادي کال کې د مشتري ۴ سپوږمۍ کشف کړې او بيا لږ مهال وروسته نورو ادعا وکړه چې په مشتري کې يې لوی سور خال کشف کړی ده په 1973 کال کې پايونير 10(Pioneer 10) فضايي بيړۍ د مشتري تر څنګ تيره شوه او په لومړي ځل يې د نوموړې سيارې نږدې انځورونه‌واخيستل. د پايونير فضايي تحقيق وروسته وياجر۱ او ۲ ( Voyager 1, 2) وليږل شول چې د لومړي ځل لپاره يې له نږدې څخه د مشتري د سپوږمۍ انځور واخيسته‌له دې وروسته بيا د مشتري تر څنګ زياتې تحقيقي الوتنې ترسره شوې يوازينۍ فضايي بيړۍ چې د مشتري مدار ته داخله شوه د ګاليليو په نامه وه چې په 1995 کال کې بريالۍ شوه.

د مشتري په اړه په زړه پورې معلومات:

په رومي افسانو کې راغلي چې د دوی په عقيده مشتري د خدايانو پاچا او د آسمان خدای وو او نوموړی معبود د يوناني معبود زيوس سره برابر دی.


په شمسي نظام کې تر ټولو چټکه چورليدونکې سياره ده. مشتري درې خو خورا تتې کړۍ لري.

مشتري يوه غښتلي مقناطيسي ساحه لري چې د ځمکې له مقناطيسي ساحې څخه۱۴ ځلې زياته ده.

که له ځمکې څخه وکتل شي مشتری د شپې له خوا په آسمان کې دريېم روڼ ستوری دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زحل(Saturn)



زحل له لمر څخه شپږمه سیاره ده. دا سیاره د ښکلي لویې چاپیره شوې کړۍ لپاره مشهوره ده.

زحل له مشتري وروسته د شمسي نظام تر ټولو لویه سیاره ده.دا سیاره له مشتري څخه په قطر کې لږ څه کمه خو په کتله کې زیاته کوچنۍ ده.زحل زیاتره له هایدروجن څخه جوړ شوی خو یو څه هیلیوم هم لري د زحل سطحه ګازي ده خو چې ژورځای بیا هایدروجن مایع کیږي او بیا په فلزډلیږي. د زحل مرکز له یوې کلکې ډبرینې هستې څخه جوړ شوی دی په ټولیز ډول د شمسي نظام په سیارو کې زحل تر ټولو لږ کثافت لري. دا یوازینۍ سیاره ده چې کثافت یې له اوبو څخه کم دی، په دې معنی چې که په یو لوی سمندر کې واچول شي د اوبو پر سر پاتې کیدای شي.د زحل سطحه د لویو طوفانونو تر څنګ د شمسي نظام تر ټولو چټک بادونه لري چې 1800 کیلومیتره پر ساعت حرکت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اورانــوس(Uranus)



د سپوږمیو شمیر:21 (د زیاتیدو په حال کې دي)

کتله: د ځمکې د کتلې 14.5 چنده

قطر: 31,763 میله

کال: د ځمکې 83.8کاله

ورځ: 17.2ساعته

د حرارت درجه: د فارنهایټ-280 درجې

له لمر څخه فاصله: له لمر څخه7مه سیاره ده،1.8میلیارده میله لریوالی لري.

یورانوس څه ډول سیاره ده؟

یورانوس له لمر څخه اوومه سیاره ده؛ دا سیاره له لمر څخه د زحل دوه هومره فاصله لري یورانوس هم د زحل او مشتري په څیر یوه ګازي سیاره ده خو د خپلې ګاونډۍ سیارې، نیپتون، په څیر ځینې وخت له کنګل جوړه سیاره بلل کیږي دا ځکه چې د دې سیارې زیاتره برخه له کنګل موادوڅخه جوړه شوې ده. له دې کبله یورانوس د شمسي نظام د ټولو سیارو په پرتله سوړ اتموسفیر لري‌د یورانوس سطحه زیاتره له هایدروجن ګاز څخه جوړه شوې ده خو یو څه هیلیوم هم لري. ګازي اتموسفیر د سیارې 25٪ برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړوي. دا اتموسفیر طوفاني دی خو د زحل او مشتري هومره طوفانونه نه لري. له دې کبله د یورانوس سطحه دومره طبیعي جوړښتونه نه لري او یو نواخت ده.

هیښنده چورلیدنه:

د یورانوس یوه ځانګړنه دا ده چې په څنګ چورلي. که تاسي لمر او د هغه چاپیره سیارې پر یوه جدول انځور کړئ و به وینئ چې ټولي سیارې د یوه چورلندي په څیر څرخیږي خو یورانوس د تشلي په څیر رغړي. زیاتره ساینسپوهان په دې متفق دي چې د یورانوس ځانګړې چورلیدنه له دې سیارې سره د یوه بل سیاره - ډولي جسم د ټکر له کبله رامنځته شوې ده، چې د دې سیارې د مسیر د بدلون لپاره یې کافي ځواک درلود.

له ځمکې سره د یورانوس مقایسه:

یورانوس له ځمکي سره ډیر توپیر لري. دا یوه ګازي سیاره ده او سطحه یې له ګاز څخه جوړه ده.په دې معنی چې پر سطحه یې دریدل نه کیږي. څرنګه چې یورانوس له لمر څخه ډیر لرې پروت دی، نو د ځمکې په پرتله ډیر زیات سوړ دی له بله پلوه د لمر چاپیره د یورانوس د هیښنده چورلیدني له کبله د دې سیارې موسومي فصلونه له نورو سره یو مخ توپیر لري. لمر د 42 کلونو لپاره د یورانوس پر یوه مخ ځلیږي خو د 42 نورو کلونو لپاره بیا دا مخ تیاره وي.

د یورانوس په اړه مو څه ډول معلومات ترلاسه کړي دي؟

یورانوس د لومړي ځل لپاره د یوه برطانوي ستورپوه ویلیم هرشل William Herschel له خوا وموندل شو. هرشل یورانوس د یوه ټلیسکوب په مرسته کشف کړ. له هرشل وړاندې فکر کیده چې یورانوس به کوم ستوری وي. له هغې وروسته چې بیا یورانوس ته لومړنی فضایي تحقیق ولیږل شو په 1986 کال کې د وویاجر 2 فضایی آله وه. وویاجر 2 پخپله د یورانوس، د هغې د سپوږمیو او د کړیو تفصیلی انځورونه راوړل.

د یورانوس سیارې په اړه په زړه پورې معلومات:

یورانوس لومړنی سیاره ده چې د رومیانو د معبود پر ځای د یونانیانو د یوه معبود پسې نومول شوې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یونانیانو په عقیده یورانوس د آسمان تر ټولو لوی خدای وو او له ځمکې مور سره یې واده کړی ووډا سیاره روښانه آبي وزمه شین رنګ لري چې دا رنګ په اتموسفیر کې‌له موجود میتان څخه اخلي.

یورانوس په سترګو لیدل کیږي یورانوس هم د زحل په څیر کړی لري خو دا کړی نازکې‌وا تیره دي. دا لومړنی سیاره ده چې په معاصر وخت کې د ټلیسکوب په مرسته کشف شوې ده.

## نپتون(Neptune)



د سپوږمیو شمیر:13 (د زیاتیدو په حال کې دي)

کتله: د ځمکې د کتلې17 چنده ده

قطر: 30,775 میله

کال:164 ځمکني کلونه

ورځ:16.1 ساعته

د حرارت درجه: د فارنهایټ -235 درجې

لمر څخه فاصله: له لمر څخه 8 مه سیاره ده، 2.8 میلیارده میله فاصله لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیپتون څه ډول سیاره ده؟

نیپتون اتمه او له لمر څخه تر ټولو لرې سیاره ده. د نیپتون اتموسفیر دې سیارې ته آبي رنګ ورکوي له دې کبله رومیانو پخپله عقیده د سیندونو د معبود په نامه ونوماوه( ځکه چې د سیند رنګ هم آبي دی).

نیپتون یوه ګازي سیاره ده، په دې معنی چې سطحه یې له ګازو جوړه شوې ده او د ځمکې په څېر کلکه ډبرینه سطحه نه لري. نیپتون د خپلې جوړه سیارې یورانوس څخه لږ څه کوچنۍ ده له دې کبله د شمسي نظام څلورمه لویه سیاره جوړوي. خو نیپتون په کتله کې له یورانوس څخه لږ څه غټ دی، له دې کبله د کتلې پر بنسټ دریمه لویه سیاره جوړوي.

د نیپتون اتموسفیر:

د نیپتون اتموسفیر زیاتره برخه له هایدروجن څخه جوړه شوې ده چې د هیلیوم یو کوچنی مقدار هم لري د نیپتون سطحه د لویو طوفانونو او ځواکمنو بادونو کور دی یو لوی طوفان هغه وخت د وویاجر 2 فضایي بیړۍ له خوا عکاسي شو چې په 1989 میلادي کال کې د دې سیارې تر څنګ تیریدله. ددې طوفان سیمه د لوی تور خال( Great Dark Spot) په نامه ونومول شوه. دا طوفان د ځمکې د جسامت هومره لوی وو.

د نیپتون سپوږمۍ:

نیپتون ۱۳ پیژندل شوې سپوږمۍ لري. د نیپتون تر ټولو لویه سپوږمۍ د ټریټونTriton په نامه یادیږي. نیپتون د زحل په څیر د کوچنیو کړیو یو سیستم هم لري خو دومره لوی نه دی چې ولیدل شي

له ځمکې سره د نیپتون مقایسه:

څرنګه چې نیپتون د ګاز یوه لویه سیاره ده، د ځمکې په څیر داسې سطحه نه لري چې قدم پر ووهل شي همداراز، نیپتون له لمر څخه ډیر لرې پروت دی له دې کبله د اړتیا وړ انرژي له لمر څخه نه بلکې له خپلې داخلي هستې څخه اخلي نیپتون د ځمکې په پرتله ډیر لوی دی که څه هم د نیپتون زیاتره برخه ګاز دی، خو کتله یې د ځمکې 17 چنده لویه ده. نیپتون له ځمکې ډیر زیات لوی دی.

د نیپتون په اړه معلومات څه ډول ترلاسه شوي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیپتون د لومړي ځل لپاره د رياضي د پوهانو له خوا کشف شو. کله چې ستورپوهانو وموندله چې د يورانوس سياره د لمر چاپيره د چورليدو پر مهال خپل وړاندينی مدار په ښه توګه نه تعقيبوي، په دې اند شول چې ارومرو کومه بله سياره شتون لري چې له خپلې جاذبې سره ديورانوس سياره کشوي. دوی يو څه نورې محاسبې هم وکړې او د نيپتون موقيعت يې وموندپه 1846 کال کې يې وشو کولی چې نيپتون په ټليسکوب کې ووينې او خپلې رياضي محاسبې ثابتې کړي.

يوازينی فضايي پلټونکې آله چې په 1989 کال کې نيپتون ته وليږل شوه وويجر 2 وه. د وويجر 2 له خواد اخيستل شويو نږدې تصويرونو په مرسته ساينسپوهانو وشو کولی چې د نيپتون په اړه لا زيات معلومات ترلاسه کړي.

د نيپتون په اړه په زړه پورې معلومات:

تر اوسه هم اختلاف دی چې نيپتون لومړی چا کشف کړ. دا د شمسي نظام تر ټولو سړه سياره ده.

د نيپتون لويه سپوږمۍ چې ټريټون نوميږي، د دې سيارې د نورو سپوږميو برخلاف د نيپتون چاپيره په څټ چورلي. دې ته معکوس مدار وايي.

د لوی جسامت سره سره د نيپتون د جاذبې قوه د ځمکې د جاذبې له قوې سره مساوي ده.

دا لومړنی سياره ده چې د رياضي اتکلونو له لارې موندل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پلوتو(Pluto)



د سپوږمیو شمیر:3

کتله: د ځمکې د کتلې2%

قطر : 1450 میله

کال: د ځمکې 248کاله

ورځ: 6.4 ځمکنۍ ورځې

د حرارت درجه: د فارنهایټ-385 درجې

له لمر څخه فاصله:له لمر څخه 3 - 5میلیارده میله لرې والی لري.

پلوتو څه ډول سیاره ده؟ تر ۲۰۰۶م کاله پورې پلوتو د شمسي نظام نهمه سیاره بلل کیدله.په دې کال کې د ستورپوهنې نړیوالې اتحادیې(IAU) د سیارې یو رسمي تعریف وړاندې کړ. د دې تعریف له مخې پلوتو د سیارې شرایط پوره نشو کړای او له دې کبله د یوې کوچنۍ سیارې په توګه لهسره ډلبندي شوه. پلوتو نسبتا کوچنۍ سیاره ګڼل کیږي چې جسامت یې د ځمکې له سپوږمۍ څخه هم وړوکی ډېر کیږي چې پلوتو د کتلې 50٪ د کنګل له یو منتیال څخه جوړ شوی دی چې زیاتره د نایتروجن یخ دی او50٪ نور یې یوه ډبرینه هسته ده. پلوتو د لمر چاپیره یو ځانګړی مدار لري.د لمر چاپیره د نورو اتو سیارو د دایروي مدار

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخلافد پلوتو مدار بیضوي دی. لمر ته په تر ټولو نږدې نقطه کې پلوتو تقریبا 2.8 بیلیونه میله لرې موقیعیت لري. او په لرې نقطه کې یې له لمر څخه فاصله5 بیلیونه میله ته رسیږي لمر ته په نږدې نقطه کې پلوتو یو نازکه اتموسفیر لري. خو کله چې پلوتو له لمر څخه لرې وي دومره سړیږي چې اتموسفیریې لاندې ځمکې ته لویږي. پلوتو درې سپوږمۍ لري: چې چیرونChiron ، نیکس Nix او هایدرا Hydraنومیږي. تر ټولو لویه یې چیرون ده. دوه نورې سپوږمۍ ګانې یې په دې وروستیو کې موندل شوي دي. پلوتو او سپوږمۍ یې د کوییپر کمربند Kuiper belt یوه برخه ده.

پلوتو څه ډول له ځمکې سره مقایسه کولی شو؟

پلوتو د ځمکې په څیر یوه کلکه ډبرینه سطحه لري. دا سیاره له ځمکې څخه ډیره کوچنۍ ده. پلوتو له ځمکې څخه ډیره کوچنۍ ده. پلوتو له لمر څخه دومره لرې ده چې له لمر څخه ډیره لږه انرژي اخلي او بې کچې سوړ دی.

د پلوتو په اړه مو څه ډول معلومات ترلاسه کړي دي؟ تر نږدې 100 کلونو پورې ساینسپوهان په دې ګومان وو چې د نیپتون هاخوا یوه نهمه سیاره هم شتون لري.دا ګومان د نیپتون او یورانوس په مدار کې د بدلونونو پر اساس شوی وو چې پر دې دواړو سیارو د یوې لویې کتلې د فشار له کبله رامنځته شوي وو. دوی دا مرموزه نهمه سیاره د X په نامه ونوموله. په 1930 میلادي کال کې یوه ځوان ستورپوه، کلاید تامبا Clyde Tombaugh د یو کال پلټنې وروسته د X سیاره وموندله. له دې وروسته بیا د پلوتو په اړه ډیر نور معلومات ترلاسه شول خو دا ټول یوازې د ټلیسکوب په مرسته وو.

په زړه پورې معلومات: د پلوتو هیښنده مدار د لمر چاپیره د نیپتون مدار غوڅوي.په پایله کې یې د248 کاله اوږد مدار پر مهال پلوتو د 20 کلونو لپاره له نیپتون څخه لمر ته نږدې وي. پلوتو د یوې ۱۱ کلنې نجلۍ له خوا ونومول شو چې ونیشیا بورني Venetia Burney نومیدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## معلوماتي برخه

په لمریز غونډال کې تر ټولو لوړ اورغورځوونکی غر په مریخ سیاره کې د الیمپوس غر دی که نوموړي غره د ځمکې پر مخ شتون درلودای؛داریزونا ایالت مساحت یې ټول نیوه.

●●●

که ۶۶ میلیونه کاله شاته راوګرځو دیوې وېرووونکې صحنې ننداره به وکړو

د چېکشلوب په نوم د یوه هسکانی له ځمکې سره ټکر ۱۴کیلومتره اوږدوالي لري، د مکزیک هېواد یوکاتان ټاپو کې !

دغه دې چېکشلوب هسکانی ځواک له ۷ میلیارده اټومي بمونو سره برابروالی لري یواځې په څو دقیقو کې یې کابو ۴۸زره متره مکعبه خاوره د ځمکې په خاوریال بې ځایه کړې .

د دې هسکانی ټکر ځمکې د تودخې درجه ۵ برابره ټیټه کړه.

او تر ۱۰۰زره کلونو پورې یې دوام وکړ. دلیل یې دا و چې د ځمکې بادیال (atmosphere) دوړو ، ګردونو او لوګیو پوښلی و ځکه دې لمر وړانګې ځمکې ته نه رسېدې ، او په ټوله ځمکه کې یو په کلونو کلونو ژمی و. دایکوسیستمي ته یې هم بدلون ورکړ یانې داچې۷۵سلنه ژوري حیوانات د ډایناسورانو په ګډون له منځه ولاړل.

●●●

چین په دې وروستیو کې مصنوعي لمر جوړوي:

د ۲۰۱۹ز- کال نومبر په میاشت کې چینایي څېړونکو یو پرمختللی راکتور په ازموینه‌سره مخ پر وړاندې ولاړل د توکامک (EAST) په کارونه یانې د وړېځې رسونې په لړ کې وپیژندل شو، یو مصنوعي لمر اټومي همویلونګ یا هجوشی‌رول ولري اټومي همویلونګ چې په واقعي ډول سېک یا انرژۍ تولید کړي دلمر بنه غوره کړه، همدا راز چې برېښنایي تودوخه یې ۱۰۰ میلیون سانتیګراډ ته لوړه شوه او اټوم یې په همویلونګ بدل کړ.

چینایي لوړپوړو څرګنده کړې چې دوی د مصنوعي لمر په جوړونه کې تر دې مهاله بریالي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دچین ملي اټومي شرکت ( CNNC) مقام په یوه کلنۍ ناسته کې زیاتوي توکامک (M2-LH) د

جوړښت لړۍ به ډېر ژر پای ته ورسوي.

دوان رسنیو ته وویل: د مصنوعي لمر پلاسما په عمده ډول الکترونونو او یونونو څخه نېڅول شوی

دی،د هغه څه پر بنسټ چې(Global Times) مطرح کړی،په چین کې د توکامک ماشین وکولای

شول چې تودوخه ۱۰۰ میلیونه سانتیګراډ درجې د پلاسما په هسته او د یون په تودوالي کې۰ ۵ سېلسیوس

درجې ته لوړه کړي لاره پیدا کړه، دا یون ده چې انرژۍ او سپک تولیدوي.

دوان زیاتوي توکامک M2-LH چې کولی شي تودوخه ۱۰۰ میلیونه او ۵۰ سېلسیوس درجې ته رسوي

د لمر د یون;له دوخې کابو ۷ ځلې تود دی.

نور ډېر څه په لاندې سرچنې په برېښنړ کې ولولۍ!

●●●

که سپوږمۍ د ځمکې لور ته د ځمکې دې راکښوان ځواک کښ کړي له ځمکې سره ټکر نه کوي بلکې د

زحل سیارې غوندې کړۍ (حلقه ) د ځمکې پر شاوخوا پنځوي .

هغه مهال شوني ده ددې کړۍ سیوری د لمر ترنځې(کسوف)ښکارنده (پدیده) ورڅخه تر بل هر وخت

زیاته رامنځته شي ، یا داچې هر ماښام پرې د ځمکې سیوری یانې د سپوږمۍ ترنځه راشي.د لمر او

سپوږمۍ ترنځه همدا ډول یوه معمولي ستوروینزه پېښه ده .

●●●

د امریکایي فزیکپوه مېچیو کاکو د غږاوی (Diologe): د یوې هېښوونکې وینا ژباړه:

د ځیرکواو پرمختللو دودیالانو(متمدینو) شتوالی زموږ په اسمانلاره ستورتلیځ Milk way

(galaxy)کې شوني ده شتون ولري، د هغوی شتوالی چې ډېر ځیرک دې کېدلی شي تر موږ میلیونونه

کاله وړاندې او پرمختللي وي، ښایي هغوی ته نورې په خپلو مېشتوږ استوګنیزو سیارو کې د سپک او

انرژۍ زېرمې ور تشي شوې وي ښایي نور د ژوندوړ سیارو د لټون په موخه د پرختللې ټیکنالوژۍ او

یا د ستوروینو /هسکوینو(تلسکوپ) د کارونې په لړ کې زموږ سیاره ومومي، ځکه چې د ژوندوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

استوګنيزه سياره له واټنونو لېرې ځايه څرګنده وي، هغه داچې اوبه رنګه بربړي ځنګلونه لري که چیرته هغوی د سل رڼاييز کال(Light year) په واټن سره لېرې وي د ځمکي سل رڼکاله پخوانی انځور به هم همداسي ووينې، ددې سپړنې په لړ کې هغوی هڅېږي او د خپلې پرمختللې ټکنالوژۍ پر مټ کولی شي ځمکې ته راشي .

زموږ به لويه هيله داوي چې هغوی سوله غوښتونکي ويزموږ لپاره به ډېر غوره وي چې سوله ييزې ميلمستيا ته يې هرکلی وکړو که چيرته هغوی جنګيالي وي زموږ لپاره به ډېرې بدې اغېزې ولري.

●●●

لومړنی کس چې د سپوږمۍ پر مخ يې پښه کېښوده« gnortsmrA lieN »و، که وغواړو چې د نوموړي نوم په اوښتي ډول يا برعکس کړو ياني«mrA lien» که له کيڼ لورې ولولو نو«neila rm » نوم ورڅخه جوړيږي چې مانا يې ښاغلی تشياژواکی(اقای بيګانه يا ښاغلی فضايي مخلوق) راځي.

●●●

ټول ستوري چې تاسې د شپې لخوا وينئ،هغه يواځې په دې وړه زېږه دايره کې شتون لري.

هر ګوره چې دا په پيني کې يو بڅرې هم نه ده. له دې دايرې هاخوا په لغړو سترګو يواځې اندروميدا ستورټليځ ليدلی شئ نور هېڅ څيز د ليدو شونتيا نشته چې ويې وينئ

●●●

که يو ناڅاپه د راکښون ځواک(جاذبې قوه) له منځه ولاړ شي په هسک اسمان کې به ټول ستوري چاودنه وکړي ،ځمکه به هم په بشپړ توګه پر هر لورې وښيندل شي ،موږ به هم له ځمکې څخه پر ساعت زرهاوو کيلو متره چټکوالي سره ناڅرګند لور ته وخوځېږو ان څه چې د ځمکې پرمخ کاني غرونه هر ډول توکي پر يو بل لور ارتاو شي.

●●●

د پيني (Universe)غځېدون(انبساط) دومره پراختيا لري چې د انسان ذهن نشي کولای د هغې دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پراختیا په اړه حقیقي درک وکړي .

شوني ده انسان ته يې د پراخوالي اندازه د یوه پلن غوړي ،کلیسا یا ونې په بڼه بسنه وکړي ،هېښنه ده خو کله چې ذهن د نوموړي دابعاد او پراختیا په پاره واندي؛ د خپل شعور او څېړنې ځواک له لاسه ورکوي د پېنۍ واړه پراخنیا او غځېدون په اره بڼه نه دی څرګند شوی ؛چې څومره پراخه ده ، خو ډېرې

څېړندلې(Research Group) په دې اړوند هڅې کوي تر څو ددې لپاره یو ځواب وموميږ

که تاسې د شپې لخوا هسک ته وګورئ ۱۳.۸ میلیارده رڼاییز کال په واټن سره لېرې د تشيا(کهان-پېنۍ) دې شالید(زمینه) ځلا لیدلی شئ ،ځکه دا تر ټولو لېرې ځلا او رڼا شمېرل کېږي چې موږ يې وینو،هېښنه ده چې رڼا د پېنۍ(Universe) دې پای ته رسېدو رڼا نه ده .

دا سکالو(موضوع) په پام کې ونیسئ چې دې ټوپنۍ(cosmos) میلیاردونه کاله کېږي دې رڼا په څېر چټک غځېدون (منسبط) کوي.

ترکومه چې تاسې ټاکلي رڼا او برېښنده ځلا وینئ هغه دې ټوپنۍ پوله نه ده ، له دې وړاندې نوره هم پراخه ده، خو موږ ته يې رڼا لا تراوسه نه ده رسېدلې .

یانې داچې ټوپنۍ دومره پراختیا لري چې موږ پکې یو ووړ بڅری هم نه یوو ، د ټوپنۍ د پراختیا او غځېدون په اندول د تشیال پېر (Space time) پربنسټ موږ تراوسه د ځمکې پرمخ یوه ثانیه ژوند هم نه دی کړی. ددې الواک(تیوری) پربنسټ د ډانګلیو(ډایناسورانو) له پېر (دوران)څخه تر اوس د ځمکې منګ(عمر) ۵ دقیقې شوی ده.

فزیکپوه پیټ ادواردز

●●●

لمریز توپانونه ځمکې ته خطر پېښوي:

څېړونکو ۷۰ کاله وړاندې ددې لمریزو توپانونو لپاره د څېړنې په موخه ازموینتي وسایل وکارول.د هاغو څېړنو له کبله يې وکولی شول دا جوته کړي چې دلمریزو توپانونو خطرونه د برېښنايي توکو سره د بېلابېلو اړیکو په لړ کې خطر پېښوي ، برېښنايي شبکو ،سپوږمکیو ، هوایي ترافیکو ، راډیویي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سکنالونو،ټلویزیوني، او مخابراتي شبکو لپاره د خطر ګواښ دی.

د لمریزو توپانونو شدیدې نومونې چې په وړاندې پېر کې رامنځه شوي د برېښنا د پرېکېدو لامل شويپه۱۹۸۹کې کاناډادکبک او په ۲۰۰۳ کال د سویډ په مالمو کې برېښنا دپرېکېدو لامل شوی دی.

اوسمهال څېړونکي په دې اړه ښيي چې لمریز توپانونه شوني ده تر دې هم څواکمن شيترکومه چې یې مېنجنه او اندازه ګیري شوي، د ملګرو ملتونو په مشری د هلنډ د لید پوهنتون څېړنې ښيي، کوم کنګلونه چې په ناباوره توګه سره بېل شويد څېړونکو په وینا هغه کنګلونه چې ډېر پنډ ول هم په لرغونپېر کې د لمریزو توپانونو په لړ کې اوبه شوي د له ګرلنډ څخه بهانده راغلي کنګلونه چې بېل شويهم ۱۰۰زره کاله وړاندې پنځېدلي دي، په دې اړوند ویل شوي چې دېته په ورته ډول لمریز توپانونه په۶۶۰ زېږدیز کال کې هم رامنځته شوي.

د لند پوهنتون د ځمکپوهنې استادرېموندماچلر وایي:که یاد لمریز توپانونه په اوسنی پېر کې رامنځته شي کولی شي ددې نوې ټولنې لپاره بدې اغېزې ولري ، دده په وینا نوې څېړنې موږ ته دا ښيي چې څوځلې پېښو دا څرګنده کړه چې لمریز لوی توپانونه پېښ شوي او هم پېښېدونکي دي. د رېموندماچلر په وینا زموږ څېړنو کې د پخوانیو ونو کلني رشد او د کنګلونو په هسته کې لمریزو لویو توپانونو نښې څرګندې دي چې په ۷۷۵ او ۹۹۰ زېږدیز کلونو کې پېښې شوې دي.

لمزیز لوی توپانونه ښایي کم پېښ شي خو د نویو څېړنو پر بنسټ دا پېښې د لمر له مکررو شدیدو فعالیتونو څخه نښان ورکوي ،ددې پېښې د مخنیوي په پار باید د خوندیتوب لارې ولټول شي، د رېموندماچلر په خبره تر اوسه چې درې لمریز لوی توپاونه کشف شوي د ځمکې پر مخ یې بدې اغېزې ښیندلي دي موږ باید دغه پېښه یوه وړه ستونزه ونه ګڼو ددې پېښې لپاره باید بشر چمتوالی ونیسي تر څو په بریښنایي توکو پورې اړند ډېر اطلاعات له لاسه ورنه کړي په اړه یې نورې د حل لارې ومومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ستور پوهنې اړوند ځينې لغات

| شماره | لغات | معنا |
|---|---|---|
| ۱ | AU, Astronomical Unit | ستوروينيز يوون واحد نجوم |
| ۲ | Phenomena | ښکارنده، پيښه، پديده |
| ۳ | Lithosphere | ډبرپاړ، لېتوسفيير |
| ۴ | Milk way | آسمان لار، شيدو لار |
| ۵ | Bow Star | دستورو ټال، ستورټال |
| ۶ | Milk way Bow | اسمانلارې ټال |
| ۷ | Galaxy Bow | ستورتليځ ټال،کهکشان ټال |
| ۸ | Space | فضا |
| ۹ | Galaxy | ستورتليځ،کهکشان |
| ۱۰ | Nebula | لوګيځه ،سحابي |
| ۱۱ | Meteoroid | هسکانى، اسماني ډبره |
| ۱۲ | Habitable | سکونت،داوسېدو وړ |
| ۱۳ | Black hole | تور غار، سياچاله |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ۱۴ | Vacuum | خلا |
| ۱۵ | Like earth | ځمکډوله، د ځمکي مشابه |
| ۱۶ | Similar to Star | ستوروزمه، متشابه ستاره |
| ۱۷ | Similar to moon | سپوږمی وزمه ،شبیه ماه |
| ۱۸ | Similar to earth | ځمکوزمه، ځمکډوله شبیه زمین |
| ۱۹ | Pleiades cluster | ستوروین وږی، پرېوني |
| ۲۰ | Sidereal, Astronomical | ستوروینیز،نجومي |
| ۲۱ | Sidreal day | ستوروینیز ورځ، نجومي ورځ |
| ۲۲ | Sidereal month | ستوروینیزه میاشت، ماه نجومي |
| ۲۳ | Sidereal time | ستوروینیز پېر، نجومي زمان/دوره |
| ۲۴ | Sidereal year | ستوروینیز کال، نجومي کال |
| ۲۵ | Astronomical unit | ستوروین یوون، دنجوم واحد |
| ۲۶ | Galaxy satellite | سپوږمیز ستورتلیځ، کهکشان اقماري |
| ۲۷ | Meta galaxy | پنځباندی ستورتلیځ، کهکشان ماورای |
| ۲۸ | Pgravitational force | راکښنیز ځواک، جاذبي قوه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ۲۹ | Icy object | کنګتوکي ،اجرام يخي، کنګپژی یخمکی |
| ۳۰ | Constellation | ستوروینتوکی، ستوروینپژی،صورت فلکي |
| ۳۱ | Super nova | ستورینه لوګیځه/درنه وربځ، ابرنواختر |
| ۳۲ | Super cluster | شهتلیځ / ستوروین وړی ، لوی کهکشان |

پــای

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مأخذونه

(1) www.facebook.com/ستور پوهنه

(2) www.nasa.gov

(3) www.google.com/درخت دانش


(4) د لسم ټولګي جغرافیه

(5) moc.yliadecneics

(6)

nus-laicifitra-na-ngised-srehcraeser-esenihc/moc.trelaecneics.www//:sptth

noisuf-raelcun-scimim-taht-



# ژوند لیک

نعمت الله بریال د خوست ولایت په مرکز کې زېږیدلی دی، په اصل کې د خوست ولایت په موسی خیلو ولسوالۍ پورې مربوط دی. خپلې لومړنۍ زده کړه یې د غرغښت عالي او مرکزي لیسه کې پیل کړې. اوس مهال د غرغښت عالي او مرکزي لیسې په یوولسم ټولګي کې زده کړې کوې. نوموړی د ښه استعداد په لرلو سره د ښوونځي تر څنګ په نورو برخو کې هم ډېرې لاسته راوړنې لري.

په انګلیسي ژبه هم برلاسی دی، او په دې برخه کې دوه تصدیق نامې د خوست نوموتو تعلیمي مرکزونو څخه لري. او ددې تر څنګ په کمپیوټر هم تر یوه حده برلاسی دی او په دې برخه کې هم سندونه لري. د لمریز نظام پوهه دده لومړنی اثر دی، چې په بریښنایي ډول خپور شو. او په دې برخه کې د نورو کتابونو د خپورولو اراده هم لري.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**